# په متحده ایالتونوکې کرايي کورونه




په متحده ایالتونوکې ډیری خلک کورونه په کرایه نیسي یا شریک کورونه نیسي. کله چې تاسو د کورپه لټه کې یاست، د خپلې بودیجې، د خپل د ځای د اساسي کرایې، اوهمداراز د کورو دپاره د نوروا ړینو توکو په اړه پوهېدل مهم دي.


## په متحده ایالتونوکې د کرایي کور په اړه

د کور اصلي ډولونه لوی او کوچني اپارتمان لرونکي ودانۍ دي، ډوپلیکسونه، هغه کورونه چې د اپارتمانونو په ډول ویشل شوي، او ګډ کورونه چیرې چې تاسو کولای شئ یوه کوټه کرایه کړئ. کرایي اپارتمانونه، ډوپلېکسونه او کورونه یو پخلنځی، د ناستې او د ډوډۍ خوړولویوه خونه، د خوب خونه او یو یا ډېر تشنابونه لري. ګډ کورونه ګډ پخلنځی، د خواړو ځایونه، او ډیری وختونه شریک تشنابونه لري.





د موجود کور ډولونه په موقعیت پورې اړه لري. تاسو به اکثرا په لویو ښارونو کې د کرایې لپاره اپارتمانونه ومومی. د ښار څخه بهر، په کلیو یا کوچنیو ښارونوکې به تاسو ګډ اپارتمانونه، کوچني کورونه او عام کورونه ومومی.




کله چې تاسوکور په کرایه نیسی نوتاسوهره میاشت یو ندازه ټاکل شوې پیسې د کرایې په نوم د جایداد مالک اویا هم مدیر(مسئول) ته د میاشتې په پای کې ورکوی. ډېری وخت به تاسو د کرایې تړون چې اجاره لیک هم ورته ویل کیږي لاسلیک کړی.




اجاره لیک ددې تضمین کوې چې تاسو په یوه کرایي کورکې د یو اندازه ټاکل شوې میاشتنې کرایې له مخې د یوې ټاکل شوې مودې دپاره پاتې کیدای شی.

## د کور د لټون څخه وړاندې

تاسو د کور د لټون څخه وړاندې باید د خپلې بودیجې او د خپلې خوښې سیمې په اړه باید بشپړ مالومات او پوهه ولرئ. خپل د کوراړتیاوې باید وپېژنئ، چې کوم شیان **باید** خوندي او په امن کې وساتی، په ځانګړي توګه که تاسو سره ستاسو کوم معیوب خپلوان ژوند کوي. همدارارز، خپله دنده، د خوراکي توکو پلورنځي، ښوونځي، د ټولنې مرکزونه، کتابتونونه، او عامه ترانسپورت چیرته دي. په پای کې، د کورنۍ او د ټولنې ملاتړ یا مرستې ته د لاسرسی په اړه هم باید فکر وکړئ.






ستاسو بودیجه به تاسو سره مرسته وکړي چې پوه شي چې تاسو د میاشتني کور لپاره څومره پیسې ورکولی شئ، کوم چې معمولا ستاسو ترټولو لوی لګښت دی. په عمومي ډول، په متحده ایالتونوکې خلک هڅه کوي ترڅو د خپل خالص عاید (مالیې وروسته) تر ۳۰٪ ډېرې پیسې پر کرایې مصرف نکړي. په هرحال، نوي راغلي وکړي کیدای شي خپل عاید ۴۰٪ یا ۵۰٪ مصرف کړي ترڅو هغه کور چې دوی ورته اړتیا لري ترلاسه کړي.



## د ارزانه کورونو پیدا کول

په متحده ایالتونوکې استوګنځي ګران دي، په ځانګړي توګه د هغوکسانودپاره چې عاید یې لږ وي. خو په دې برخه کې مرستې شتون لري.

ستاسو سپانسر (ملاتړی) یا سپانسرګروپ، ستاسو د بیامېشتېدنې اداره یا د ښه راغلاست نورې ټولنې لکه د امریکورپس (AmeriCorps) کولای شي تاسو سره د کورموندنې د سرچینو په برابرولوکې مرسته وکړي.

Cultural Orientation Resource Exchange

For more information, visit Settle In at settleinus.org.

This resource was created in partnership with Refugee Housing Solutions. Refugee Housing Solutions is a project of Church World Service under an agreement paid for by the U.S. Department of State.